# د خوشحال خان خټک د رزمیه قصیدو څېړنه

## A Review of the Rhapsodic Qaseedas of Khushal Khan Khattak

Dr. Nagina Khanam[*]

**Abstract:**

In Pashto literature, Khushal Khan Khattak is a prominent figure like Sun. Khushal Baba has used more than his pen with the leadership of the tribe and has created valuable literature. There are different genres in this literature that one is also a Qasida in it. Khushal Baba has established a new narrative in the Qasida and instead of describing the titles and titles of the kings, he has described the story of their oppression. He has described the war situations and realities in this article.

**Key words:**

Khushal Khan Khattak, Qaseeda, Razmia

خوشحال خان خټک په ۱۰۲۲ هجرۍ کښې د شهباز خان په کور کښې پېدا شوے وو چې د نابغه په نوم چې په پښتنو کښې شهرت ومونده. په پښتو کښې لکه څنګه چې دا خبره هر چاته معلومه ده چې خوشحال بابا د قلم سره سره د تُورې هم مړنے وو. هغوي خپل ټول ژوندون د پښتنو د خوشحالۍ، سوکالۍ او پښتون قام د آزادۍ او د خوي خصلت يو ځوان مرد، مېړني او ننګيالي په اوصافو ښائسته کولو دپاره وقف کړي وو. د خپل دغې عزم او جهد مسلسل په لار کښې ئې ډېرې سختې ورځې شپې او جنګ و جدل خنډونه هم زغملي دي. د خوشحال بابا د شخړو نه ډک ژوند د هغۀ په تخليق شوي ادب ډېر اثر لري .

مونږ چې د رزميه قصائدو په اړه د پښتو شاعرۍ جاج اخلو نو په دې نتيجه رسو چې خوشحال خان خټک چې په رزميه قصائدو وئيلو کښې څومره بسيار ګو دے د دوي د رزميه قصيدو مقدار او معيار چې څومره پوخ او قوي دے. او دوي وېنا چې څومره جامعيت لري دا په پښتو ادب کښې د بل قصيده ګو شاعر په برخه نۀ ده راغلې.

---

[*] Lecturer, Department of Pashto, University of Peshawar

د دې يوه غټه وجه دا هم ده چې شاعران خو اکثر د جنګونو او رزم ګاهونو حالونه او واقعات د اورېدو نه وروستو نظم کوي. ډېر کم شاعران چې چا به پخپله د جنګ و جدل حال احوال ليدلے وي. د غشي برېښنا او د تُورو ځړپا ئې سترګې برېښنولي دي. او پس د هغې ئې رزميه شعر وئيلے وي. د خوشحال بابا رزميه شاعري په دې لحاظ هم انفراديت لري چې هغوي پخپله جنګېدلي دي. جنګيالے او توريالے وو د جنګ د مېدان ټول واقعات ئې پخپلو سترګو ليدلي دي. او بيا ئې هغه ټول رزميه واقعات په خپلو رزميه قصيدو کښې ډېر په هنر بيان کړي دي. په دې لړ کښې ښاغلے فضل حق شېدا وائي:

> "د خوشحال رزميه شاعري د دنيا د ډېرو رزميه شاعرانو د کلام نه په يو لحاظ غوره ده. په وجه د دې چې دې رزمونو او جنګونو کښې شاعر په خپله شامل وو. د دې دغه خونړۍ ډرامې اهم کردار يا هيرو وو، په خپله ئې تُورې وهلي او وينې ئې بيولي دي. د تُورو ګزارونه ئې خوړلي هم دي. او وينې ئې توئې شوي دي. د فردوسي شاهنامه بېشکه يو عظيم شاهکار دے خو د تېرو هېرو بادشاهانو د جنګونو اورېدلي حال نظم کړے دے. که د يونان ايليډ او اوډيسي غوندې لوے رزميه نظم ليکلے دے نو هم دغه جنګونو کښې شامل نۀ وو. نورو شاعرانو هم جنګنامې ليکلي دي خو صرف اورېدلي ئې دي. دغه شان د خوشحال رزميه شاعري يو منفرد مقام لري."[1]

د خوشحال بابا د رزميه شاعرۍ او قصيده ګويۍ پحقله د پورته ذکر شوي اقتباس په رڼا کښې دا خبره نوره هم جوته شوه چې خوشحال بابا لکه د شاعرۍ د نورو اصنافو او رنګونو په شان په رزميه قصيده کښې هم د حقيقت پسندۍ نه کار اخستے دے چې څۀ ئې ليدلي او څۀ پرې تېر شوي دي هغه ئې هو بهو قلم ته سپارلي دي. د خوشحال بابا په قصيده ګويۍ کښې د تاريخ د خوندي او ژوندي پاتې کېدو او په صداقت د اړه لرلو غوندې علويت او شان د هغۀ رزميه قصيدې ته د پښتو د منظوم تاريخ حېثيت ورکړے دے.

د خوشحال بابا د رزميه قصيدو تاريخي تفصيل او پس منظر:

د خوشحال بابا د رزميه قصيدو د زېړولو نه دا معلومېږي چې خوشحال بابا که يو خوا په خپلو قصائدو کښې رزميه رنګونه ځاے کړي دي. نو بل خوا ئې صرف د جنګ و جدل ته د قام وګړي د تيارولو اود هغوي د بهادرۍ او شجاعت د شاباسۍ دپاره قصيدې نۀ دي وئيلي بلکې هغوي د خپلې زمانې او په هغه د تېر شوو واقعاتو مکمل تاريخ او د هر جنګ او شخړې پوره تاريخي پس

منظر هم بيان کړے دے. دلته د خوشحال بابا د رزميه قصيدو تاريخي تفصيل او پس منظر په مختصرو ولې په جامع انداز کښې بيانوم.

لکه څۀ رنګ چې د تاريخ د اوراقو څخه جوته ده چې د خوشحال خان خټک ژوند يو پُرآشوبه ژوند وو او ټول عمر ئې په سختو سختو مهماتو سرکولو جنګونو او کشالو کښې تېر شوے دے.

لا يـــو شـــور راغـلـــې لاړ نـــۀ وي بـــل راشـــي
مګـــر زۀ پيـــدا پـــه ورځ د شــــور و شــــر يــــم[2]

د خوشحال بابا د دغې پُرآشوبه ژوند ټول تاريخ د هغۀ د کلام نه او په خصوصي ډول د هغه د هغو رزميه قصائدو نه موندې ته په لاس راځي په کومو قصائدو کښې چې هغۀ نۀ يواځې د پښتون قام د زلمو په مړانه شجاعت او بهادرۍ هغوي ته د نور قامي افتخار او د قام په سر د خپله سره د تېرېدو څخه کاندې د هغوي جذبات راببداروي بلکې د خپل رزم د واقعاتو ټول تاريخ هم په کښې بيانوي. د خوشحال بابا په رزمونو او جنګونو کښې يوه مشهوره جګړه د "ډوډې" ده. د ډوډې د جنګ په حقله خوشحال بابا يوه اوږده قصيده ليکلې ده چې مطلع ئې داسې زورداره جذباتي او تېزه ده چې سم د غيرت د اور لمبه ښکاري.

څـــو وانـــۀ خلـــې لـــه غليمـــه انتقـــام
مـــرد نـــۀ خـــوب کـــا نـــۀ خـــوراک کـــا نـــۀ آرام[3]

دې قصيده کښې خوشحال بابا د ډوډې د جنګ د ګټلو او د ګنبت په جنګ کښې د ماتې خوړلو تذکره کړې ده.

د ګنبـــت غصـــه مـــې او وتـــه لـــه دلـــه
خـــدا ے چـــې راکـــړه پـــه ډوډه د فـــتح کـــام
د ګنبـــت ارمـــان مـــې درســـت اووت لـــه دلـــه
کـــه شکســـت وو کـــه پرهـــار وو کـــه دشـــنام
کـــه مـــې پښـــه پـــه ګنبـــت وښـــويئېده څـــۀ شـــو
پـــه همـــت مـــې ثـــابتي وه د اقـــدام
د ډوډې پـــه جنـــګ کښـــې بيـــا لـــه ميـــو ډک شـــو
پـــه ګنبـــت کښـــې چـــې خـــالي وو هغـــه جـــام[4]

د خوشحال بابا وړاندې د دې قصيدې په ځنې اشعارو کښې د خپلو زامنو عابد خان او صدر خان د تُورې او مړانې شجاعت او همت په باب له د خپلې وياړنې ځرګندونه کوي او د صدر خان په وړومبې ځل جنګ د ګډون او جرات بيان کوي.

چې په مخ ئې فتح درومي عابد خان دے
په هر ځاے د خپل بابا تازه کا نام
چې دا هسې تورزن ورور ئې خداے پېدا کړۀ
پرې دې فخر کا همه ورونه مدام

صدر خان لا چرې جنګ ليدلے نۀ وو
په دا جنګ ئې نېزه سره کړه په خصام[5]

د ډوډې جنګ د خټکو او بنګشو تر مېنځه شوے وو. چې خوشحال خان بابا په کښې د خټکو زلمو ترې او او بولاق ښۀ ستائنه کړې ده. او د رزم ګاه نقشه ئې په داسې شکل او تفصيلي انداز راښکلې ده چې په لوستو ئې د بنيادم د سترګو په وړاندې لکه د فلم د پرده د ډوډې د جنګ ټول واقعات راشي.

د ډوډې حصار ئې ټول په وينو سُور کړو
په ډوډو باندې چې اوشو قتلِ عام
د ډوډې حصار څۀ هسې اسان نۀ وو
چې ئې فتح تېر بدله په اوهام
پاس په غرۀ باندې محکم وو چا وهلې
د کوهاټ تر کوټ ئې ښۀ وو استحکام
د خاوند په حکم هسې فتح اوشوه
چې ئې کار شو په دوو ورځو سرانجام
شابي خېل که مکوړي وو په ولجه شول
د خورمو تنبې ښۀ وکړ خرام
عالم خان صاحب اولاد جمال الدين دے
په ساغري په بنګې خېل کښې د اکرام[6]

د بنګشو سردارانو، سردار عنایت خان، ملک میري (د بنګښو یو شاخ) او د ګاوز (دولس ښکرې غرئیز ځناور) د وهلو حال څۀ داسې بیانوي.

عنایـــت ســـردار کـــه څـــۀ ملـــک میـــري وو
د ډوډې پـــه جنـــګ شـــول مالګـــه د طعـــام
کـه ګـاوز پـه جنـګ باتُور دےجنـګ ئـې هېـر دے
چـــې پـــه ســـر اوخـــوري څپېـــړه د ضـــیغام
شـاهي ببـګ سـاغري پـه تـن ملـک میـري دي
تـــر شـــیرا اول د دۀ کـــړي کـــار تمـــام[7]

د شابي خېلو، مکوړیو د ښو جونو اسونو او تُورو زغرو لیندو او د نورو جنګي وسلو ذکر په دې ډول کوي.

پـه دا جنـګ کښـې ولجـې وشـولې بـې شـماره
د ښـــو جونـــو د اســـونو د انعـــام
تُـوري زغـرې کـه لینـدې وې کـه دُرسـتې وې
پـــه وســـلو ســـره معمـــور شـــو هـــر کـــدام[8]

خوشحال بابا یو داسې حقیقت پسنده شاعر وو چې که حالات هر څنګه وو خو هغه هېڅ کله هم د حقیقت پټولو کوشش نۀ دے کړے. د ګنبت په جنګ چې ئې کله د بنګشو نه ماتې اوخوړه نو د دغې جنګ تاریخي تفصیل او پس منظر ئې که هر څو که د خپل فرار، تېښتې او ماتې باندې بناء شوے وو خو بیا هم خوشحال بابا د دې احوال او واقعاتو د پټولو کوشش نۀ دے کړے. بلکې په دې رزمیه نظم کښې ئې هر څه ښکاره ښکاره بیان کړي دي.

خوشحال بابا که د بهاریه قصیده وائي او که د چا هجو کوي. خو په خپلو واړو قصائدو کښې په څۀ نه څۀ طریقه رزمیه رنګ ضرور ګډوي. او دغسې ئې د خپلو قصائدو ښائست او اهمیت په تاریخي تفصیل او پس منظر سېوا کړے دے. لکه په یوه بهاریه قصیده کښې د ایمل خان او دریا خان افریدي ستائنه کوي. د یوسفزو غندنه او د اورنګزېب په حسن ابدال د قیام ذکر او دغسې د شېرو مشهورو جنګونو ذکر سره په دې قصیده د رزمیت رنګونه خوارۀ وي.

ایمـل خـان دریـا خـان دواړه مـرګ ئـې مـۀ وے
هـــېڅ تقصـــیر دواړو اونـــۀ کـــړو وار پـــه وار
د خیبـــر دره ئـــې ســـره کړلـــه پـــه وینـــو

په کړپه ئې هم روان کړ دندوکار

په حسن ابدال د اورنګزېب د پړاؤ ذکر داسې کوي.

اورنګزېب راته یو کال اوشۀ چې پروت دے
په صورت حېران پرېشان په زړۀ افګار
کال په کال امرایان دي چې پرېوځي
چې طوفان شولے لښکر ئې کوم ئې شمار
خزانې د هندوستان دې راخورې شوې
سرۀ مهران دي ننوځي په کوهسار
دا د هیچا په اتلس فکره نۀ وه
چې به دا کارونه شي په دا دیار

د بادشاه د بدنیتۍ کمې نشته
په بد نیت ئې ازار واخست د خپل پلار
څکه اوس د چا باور ورباندې نشي
هم بد نیت دے هم بد قول هم مکار[9]

د افریدو، مومندو، شنوارو او یوسفزو بې ننګۍ او بې پتۍ داسې غندنه کوي.

افریدي، مومند، شنواري ګوره څۀ کا
د مغلو لښکر پروت په ننګرهار
زۀ تنها په کښې په غم د نام و ننګ یم
یوسفزي په فراغت په کښت و کار
اوس چې هسې بې ننګي بې ناموسي کا
عقوبت به ورښکاره شي خپله چار[10]

او د جنګونو تذکره څۀ داسې کوي.

اول جنګ د لوړې شا د تهتر وۀ
چې څلوېښت زره مغل شول تار په تار
خوئېندې لوڼه ئې په بند د پښتنو شوې
اس اوښان هاتیان ولجه قطار قطار

دويـم جنـګ ميـر حسـيني پـه دوابـه کښـې
چـې ئـې وتښـتېـدۀ سـر لکـه د مـار
بيـا لـه پسـه د نوښـار د کـوټ جنـګ وو
چـې مـې وکـښـېنښ تـر مغلـو خپـل خمـار
بيـا لـه پسـه جسـونت سنګهـ شـجاعت خـان وو
چـې ايمـل ئـې پـه ګنـداب وپوسـت د مـار
شـپږم جنـګ مکـرم خـان شمشـير خـان دواړه
چـې ايمـل کـړل پـه خـاپښ کښـې تـار پـه تـار[11]

د دې قصيدې اخري شعرونو ته فکر کول پکار دي چې څومره سره جذبات لري او د ننګ و جنګ، د پت او غيرت ولولو ته څنګه حرارت بخښي.

مـرګ زمـا پـه پوهـه ښـۀ تـر دا ژونـدون دے
د عـزت سـره چـې نـۀ وي زيسـت روزګـار

همېشـه بـه پـه جهـان کښـې ژونـدون نـۀ وي
د خوشـحال خټـک بـه پـاتې شـي يادګـار
د دريمـې خـور اول کـال د غفـو و(يکـم جمـادي الاول۱۰۸۲هـ ـــــــــــــــــــــــ)
مـا چـې اووې پـه برمـول کښـې دا اشـعار[12]

دا کمال صرف او صرف خوشحال بابا ته حاصل وو چې هغوي که رزميه واقعات بيان کړي دي او که بزميه خو د بيان زور د واقعاتو تسلسل ئې لکه د زنځير د کړو په شان يو بل سره تړلي پېرلي وو. د هغه تاريخي تفصيل او پس منظر کښې ښۀ کامياب ښکاري. هغه چې د کومې واقعې تاريخي تفصيل بيان کړے دے. او که د هغې په پس منظر ئې رڼا اچولې ده هغه ئې لکه د روښانه نمر په شان ښکاره د رنګ پلوشو او شغلو په رنګ وه. چې لوستونکي نه د هغې واقعې د جنګ پس منظر او په رزم ګاه کښې د خوشحال تېر شوي او د هغۀ ليدلي کتلي د هېڅ رزم او د رزم ګاه د واقعې يو اړخ هم پټ نۀ شي پاتې کېدے.

"د محرم الحرام په دويمه نېټه ۱۰۸۳هـ کښې د خيبر عظيم جنګ چې خوشحال خان خټک پکښې د پښتنو خلاف د خپل محسن محمد امين خان په وجه

جنګېدلے وو خو بیا ئې هم ډېوله همدردي د پښتنو سره وه او دا جنګ خو خوشحال بابا غوښتل چې هېڅو اونۀ شي. خو د دې باوجود هم ښۀ تود جنګ اوشو. خوشحال بابا د دغې جنګ نه سمدستي پس یوه رزمیه قصیده اولیکله چې پکښې د محمد آمین ان او د هغۀ د اهل و عیال په تباهئ په ډېره دردناکه طریقه افسوس کړے دے. او ورسره ئې د پښتنو د فتح ذکر هم کړے دے. او ورسره ورسره ئې پښتنو ته د بېدارئ غږ او خبردارے هم ورکړے دے. په دې جنګ کښې که خوشحال بابا ته د محمد آمین خان په تباهئ افسوس وو نو ورسره د مغل په تباهئ د اورنګزېب وقار ته په صدمه او د پښتون په کامیابئ خوشحالي هم وه.[13]

دغه ټول واقعات او تاریخي تفصیل خوشحال بابا په دې قصیده کښې په دې ډول بیان کړے دے.

چې دانا تر نادان لاوزني بتر
مګر نۀ دے دا ژوندون څۀ معتبر
چې مې فهم فکر وکړ باور وکړه
په دا باغ کښې ګل له خار دي برابر

دا متل د زماني دے څۀ اوس نۀ دے
چې نامرد خر په پالان وهي نه خر
مستجاب مهمند که چرګه د مغل دي
زۀ خوشحال خټک خو باز یم ځاے مې غر[14]

کله چې مهابت خان د خوشحال خان خټک نه په خپله مرسته کښې عملي تعاون اخستو کښې ناکامه شو او د خوشحال بابا دریم ځوئے بهرام خان چې د پلار نه په دې خبره خفه وو چې هغوي د مشرئ په ګدئ اشرف خان ولې کښېنولے دے. په لاس ورغلو او دغسې بهرام خان د خوشحال بابا یعنې خپل پدرِ حقیقي سره په جنګونو لاس پورې کړل. دغلته نه د مغلو او خوشحال خان خټک تر مینځه د عداوت اغاز کېږي. د بهرام خان او خوشحال سره ډېر جنګونه اوشول او بهرام هر ځل د شکست او ماتې سره مخ شو. خوشحال بابا په دې اثنا کښې د کوهاټ دوره اوکړه. د دغې دورې په جنګ کښې افریدو او په خټکو کښې مهمندیو خوشحال خان سره ډېر زیات امداد اوکړو. په دې زمانه کښې خوشحال بابا دا بلندپایه قصیده اولیکله چې په کښې ئې د مهمندیو، خټکو او افریدو د

امداد د ذکر سره سره تړلې تاريخي تفصيل او پس منظر وړاندې کړو. زۀ دلته د دغې قصيدې څنې اشعار وړاندې کوم.[15]

بيــــا لـــــه کــــومې راپيـــدا شـــو دا بهــــار
چــې پــه هــر لــوري ئــې ملــک کــړو يــو ګلــزار
ارغـــوان دي ضـــميران سوســــن ريحـــان دي
ياســـــمن دي نســـترن نـــرګس ګلنـــــار
زۀ تنهـــا پـــه کښــې پــه غــم د نــام و ننــګ يــم
يوســـف زئـــي فراغـــت پـــه کښـــت و کـــار
مــرګ زمـــا پـــه پوهـــه ښـــۀ تـــر دا ژونـــدون دے
د عـــزت ســـره چـــې نـــۀ وي زيســـت روزګـــار
همېشـــه بـــه پـــه جهـــان کښـــې ژونـــدون نـــۀ وي
د خوشـــحال ختـــک بـــه پـــاتې شـــي يادګـــار[16]

خوشحال بابا د مغلو د نمک نه او د اورنګزېب د جوروستم نه د فرياد تذکره داسې کوي. دلته خوشحال د "وهم که نه وهم" په کشمکش کښې راګېر دے.

پـــــرورده کـــــه د مغلـــــو پــــه نمــــک يـــم
د اورنګزيـــب لـــه جـــوره هـــم لـــه غريـــوه ډک يـــم[17]

د مغلو او پښتنو د زړۀ بداوې ذکر کوي، وائي:

پښــــــتنو ســــــره زړۀ تــــــور دے د مغلـــــــو
خبـــردار ئـــې پـــه نيتونـــو يـــک پـــه يـــک يـــم[18]

د شاه جهان د قدردانۍ او د اورنګزېب د سپک نظرۍ ذکر په دې ډول کوي.

يـــا زۀ بـــاز ووم يـــا شـــاهين شـــاه جهـــان تـــه
و اورنــــګ وتــــه کارغــــۀ يــــا مښــــګيرک يـــم[19]

د رزميه قصيدې هغه رنګ او اثر چې ننګونه پرې سرۀ کېږي او غېرتونه پرې راپارېږي، داسې بيانوي.

په خپل نام و ننګ چې راشم لېونے شم
خبردار کله په سود او زيان د لک يم
چې نيولې مې دا هوډ د ننګ و نام دے
که له خپله هوډه واوړم کنيزک يم[20]

د بهرام عداوت له داسې اشاره کوي.

په بل غشي ټوپک هېڅ ويشتلے نۀ يم
که ويشتلے يم خو بيا په خپل ټوپک يم[21]

د خټکو مهمنديو او افريدو ذکر په دې رنګ کوي، وائي:

که خټکو راته شا کړه مخ ئې تور شۀ
زۀ يواځې په تکيه د خدا ے شېرک يم
مهمندې زما د کډې لاس و پښې دي
راضي منډ د افريدو په کومک يم[22]

او اخري بېتونه ئې څومره زوردار دي.

که مې عمر په شماره تر شپېتۀ تېر دے
لا په کار د سوارۍ لکه ازېک يم
د افغان په ننګ مې اوتړله تُوره
ننګيالے د زمانې خوشحال خټک يم[23]

د دغې نه وروستو بيا خوشحال بابا د خټکو افريدو او د يو لښکر سره د نوښار په کوټ حمله اوکړه او له دغې پسه د مغلو او پښتنو ډېر لوے جنګ د مهمندو د ګنداپ په کړپه اوشو. چې ايمل خان د مغلو يو ډېر لوے لښکر چې شجاعت خان رعد انداز بېګ او مهاراجه جسونت سنګهه راټهور ئې سرداران وو مات کړو.

د دغې جنګ نه اول په دوابه کښې هم پښتنو مغل وهلي وو. دريا خان خوشحال بابا سره صلاح اوکړه چې په کوهاټ به حمله کوي خو چې په کړپه د ايمل خان د کاميابۍ نه خبر شو نو د خوشحال بابا د کومک نه بغېر ئې په کوهاټ حمله اوکړه خو زبردست شکست ئې اوخوړو. خوشحال بابا چې په څوتره کښې وو د دې واقعې نه خبر شو نو د بنګشو په کلو ئې د حملې دپاره سوارۀ اولېږل

او هغه کلي ئې اوسوزول. د دې نه پس خوشحال بابا د خوړي مخه اوکړه خو هلته هم ډېر ایسار نۀ شو او د تیراه په لور ئې کوچ اوکړو. اورنګزېب چې د پښتنو د وهلو په غرض د حسن ابدال مخه اوکړه نو خوشحال بابا خبر شو نو په مېدان جنګ کښې ئې داسې رزمیه قصیده اووئیله.

چې په خوا په خاطر نۀ هسې عیان شي
ځینې څۀ چارې پېدا په دا جهان شي
په لاچې په څوتره وګرځېدلم
اوس مې ګشت د افریدیو په مېدان شي
د مزریو مړتوب په لښکر نۀ وي
مېنې هر کله یواځې په خپل ځان شي
ازادي تر بادشاهۍ لا تېرې کا
چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي[24]

نتیجه:

خوشحال خان خټک په ادبي اصنافو کښې تقریباً په هر صنف طبع ازمائي کړې ده او کامیاب شوے هم دے خو د نورو اصنافو په نسبت په غزل او قیصده کښې یې ښۀ مټ چلولې دے . د قصیدې روایت چې د مخکښې نه کوم راروان وو نو په هغې کښې به د شاهانو، پیرانو او مشرانو صفتونه کېدل خو خوشحال دغه روایت بیخي بدل کړو بلکې د صفت په ځاے یې پکښې د شاهانو هجو او هزل بیان کړو۔ خوشحال بابا په مختلفو موضوعاتو قیصدې لیکلي دي خو رزمیه قصیدې یې ځکه د ډېر اهمیت وړ دي چې په اکثرو جنګونو کښې خوشحال بابا پخپله شریک شوے دے بلکې د جنګ مشري یې کړې ده نو دغه ټول واقعیات یې عملي لیدلي او کتلي دي . دا رزمیه قصیدې د د خوشحال بابا په وخت کښې د مغلو سره د شوي جنګونو یو اهم او تاریخي دستاوېز دے .په دې کښې د ډېر شخصیاتو ، ځایونو او پېښو ذکر په ډېر ادبي انداز کښې شوے دے۔ او بل کمال یې دا دے چې چونکې خوشحال بابا یو رېښتونے انسان وو نو په دې وجه چې څه یې لیدلي هم هغه یې من وعن بیان کړي دي۔

## حوالې

[1] شېدا فضل حق – د خوشحال خان حماسي شاعري – پښتو خوشحال نمبر اپرېل ۱۹۷۲ ، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورستي، ص ۹

[2] کامل دوست محمد – کلياتِ خوشحال خان ختک – د چاپ کال ۳ جمادي الاول مطابق ۳۱ جنوري ۱۹۵۲ء، منظور عام پرېس پېښور ، ص ۵۷۱

[3] هم دغه، ص ۵۵۴

[4] هم دغه، ص ۵۵۵-۵۵۸

[5] هم دغه، ص ۵۵۵-۵۵۷

[6] هم دغه، ص ۵۵۲-۵۵۹

[7] هم دغه، ص ۵۵۷، ۵۹۹

[8] هم دغه، ص ۵۹۹

[9] هم دغه، ص ۵۲۲-۵۲۷

[10] هم دغه، ص ۵۲۸

[11] هم دغه، ۵۲۷-۵۲۸

[12] هم دغه، ۵۲۸

[13] هم دغه، ص ت تا ز

[14] هم دغه، ص ۵۵۲

[15] هم دغه، ص ز تا ض

[16] هم دغه، ص ۵۲۲ - ۵۲۸

[17] هم دغه، ص ۵۲۳ تا ۵۲۲

[18] هم دغه

[19] هم دغه

[20] هم دغه

[21] هم دغه

[22] هم دغه

[23] هم دغه

[24] هم دغه، ص۲۱۳-۲۱۴


1. Shaida, Fazal Haq, Da Khushal Khan Hamasi Shairi, Pukhto Khushal Number April 1976, Pukhto Academy, Pekhawar University, p 9
2. Kamil, Dost Muhammad, Kuliyat Khushal Khan Khattak, Da Chap Kaal 3 Jamdil Awal Mutabiq 31 January 1952, Manzoor Aam Press Pekhawar, p. 571
3. Hum Dagha, p. 554
4. Hum Dagha, p. 555 – 558
5. Hum Dagha, p. 555 – 557
6. Hum Dagha, p. 556 – 559
7. Hum Dagha, p. 557, 599
8. Hum Dagha, p. 599
9. Hum Dagha, p. 526 – 527
10. Hum Dagha, p. 528
11. Hum Dagha, p. 527, 528
12. Hum Dagha, p. 528
13. Hum Dagha, p. taa ta zaa
14. Hum Dagha, p. 556
15. Hum Dagha, p. zaa ta dwaad
16. Hum Dagha, p. 526 – 528
17. Hum Dagha, p. 563 – 566
18. Hum Dagha
19. Hum Dagha
20. Hum Dagha
21. Hum Dagha
22. Hum Dagha
23. Hum Dagha
24. Hum Dagha, p. 213 – 214